دټولو خلکواولادونه دي ، دډاکټر صاحب پاليسي خودانه ده چي دلته محدود خلك اوخپل ولس اويادخپل تنظيم خلك قبول کړي بلکي هر څوك کولي شي دلته تحصيل وکړي موږ به دآزادي نه بعد دملك په اداره کي دهغه په رهبري کي تنظيمي ترجيحات ولايتي ترجيحات قومي ترجيحات ،ژبني ترجيحات اوملکي اوصنفي ترجيحات په نظر کي نه نيسو، ترجيحات به داوي چي څوك په دي ځاي کي دغه خلکو ته داصولو سره سم صادقانه اومخلصانه دخدمت اهليت لري اوعملاً يې الجاموي ،مسلمان به وي ،امانت دار به وي باالطاعته به وي دهرقسم حيلو اودسيسو نه به دده کوي اوهروټول امکانات به داصولو مطابق دخپل قوم په خدمت کي استعمالوي .

زه يو وزير وټاکل شوم ،بيا چي دې وزارت نه بدليږم دهغه وزارت ټول امکانات به خپل قبضه کي نه ساتم داوسه پوري دوزارت مخابرات دټولو

امتيازاتو ته ديوي کتابچي ته سوړ چي ماسره په بکس کي وي حرام قطعي ده چي موږ دهغي دامکاناتو نه استفاده نه ده کړي موږ خوددي وزارتونو نه تښتيدلو، که موږ دوزارتونو سره رغبت درلودلي داخو موږته دظاهرشاه دنظام نه بعد په هروخت کي ميسر وو ، چي موږ دهرچا سره سازش کړي وي دي مقام ته به رسيدلو اوداخپل وراثت نه گڼو داوزارت ددي رهبرانو په مخ کي ايسي دي ماحکمتيار صاحب ته هغه ورقه چي زه يې په کښي معرفي کړي وم بيرته ورووړي چي چاته ستا زړه شواوکار پري جوړيدلو داورکولي شي زما په نسبت

دانشويش ونکړي چي څه بې ثباتي راشي زه غوارم خپل قوم ته خدمت وکړم، خپل قوم کي دعوت وچلوم اوخپل قوم کي دعبادت روحيه پيداکړم ،دخدمت روحيه پيداکړم ، وحدت اوداخوت روحيه پيداکړم اودغه صحني وگورم اوبيري خوشحاله شم چي الحمدلله زموږيه قوم کي اتحاد، اخوت ، عدالت ، کرکتر،تعليمات اويه دي کي دبياجوړولو کارونه روان دي . موږيه زندان کي اوسيږوخوهغه نظريه چي موږورسره تعهدکړي ووهغه دي ژوندي وي هغه دي حاکمي وي موږ خوشحاله يو.

خويه وزارت کي تاست بوقناعت نشته اوداموإعلان کړي چي موږ له عدم قناعت سره دلته ناست يو. په دي قانع نه يوچي داخه چي کيږي دادرست کاردي باپوره کاردي بلکه ددي نه بايدځان وباسو موږ چي رئيس دولت ددولت امکانات دصدراعظم پرخلاف استعمال کړي ياهغه ته موقع ورنکړي چي خپل ځاي ته راشي . شايد شپږمياشتي داصحنه تيره شوي وي خويس له دي نه دادشپږووړځويا په شپږوهفتونورتحمل نه کوو بايد داصدراعظم خپل کارته ځي خپل اختيارات اوصلاحيتونه به دقانون په رڼاکي ورسره وي رئيس دولت سره به خپل مقام وي، صدراعظم سره به خپل مقام وي وزيرانوسره به خپل مقام وي ، اوکنه موږددي حکومت فاتحه اخلو. ټول مملکت په تعليق کي پروت دي ، ټول امورمعطل دي ولي مشکل حل نه دي. نهوتنظيمونويه گډه حکومت جوړکړي مشکل ولي نه دي حل مشکل ذاتي دي مشکل شخصي دي موږدذاتياتواوشخصياتويه خاطرټول مملکت معطل کړو داټول اموريه تعليق کي واچوو داځل به زموږ ابتکارداوي مخامخ وايوټولوته چي درئيس دولت سره خپل تعهدته وفاداريه هغه صلاحيتونه چي لري هغه به دده سره وي . دصدراعظم سره به خپل صلاحيتونه وي اوخپل ځاي ته به ځي. وزيرانوسره به خپل صلاحيتونه وي اوددفاع اوداخله وزيران بايدوټاکل شي مسعودددي ووډدي چي هغه دي په کابينه کي واوسيږي . سرنوشت ئي تعين شي عهده ورسره وي خودهغه خپلي عهدي صلاحيت ورسره وي موږته غواړوچي يوڅوك بهرپاتي شي. ان شاء الله چي په دي کي ډيراميدشته، پرون موږدلته علماوسره خبره وکړه نن دذاکري صاحب په مشري دعلماووبوهيئات لاړو،يوتعداد نورهم تللي دي موږهم اراده لرو اوهلته ددغه جهادي مشرانوسره داعتماد، وروروولي اومسئوليت په فضاکي خبري کول غواړو. چي ورونويه دي موپيرزونه پاستي چي اوس دافغانستان دآزادي نه بعد دداخلي تنظيمي کشمکش په وجه باندي تاسوته ټول مملکت معطل وي اويادي مملکت داداري چانس له لاسه ورکړي ، دابه ترآخره داسي نه پاتي کيږي بابه موږيه دي ملك کي حکومت جوړوو ددي ملك اداره به په خپل لاس کي اخلواويه دي ملك کي به خلکوته خدمت کوو امنيت به راولوټول کاريه روان وي اويابه په دي ملك کي بل څوك راځي داملك به په خپل اختيارکي اخلي، مملکتونه معطل نه پاته کيږي همداوه لاري دي موږيه خپله ددي ملك داداري اورهبري ،کنترول ، امنيت اوخدمت له پاره حکومت جوړو داکاريه کوو اوداخاليگاه به دکوو اويابه ددغه تعطل له امله بهرني نړي مداخله کوي اودي افغانانوته به حکومت جوړوي زه خووايم چي کله موږيه دي ونه توانيدلو چي دخپل ملك اوخلکوخدمت له پاره

اسلامي حکومت جوړکړو اومسلمانان استخدام کړو چي خدمت وکړي بايد صحنه پريږدو، خلك حکومت ته ضرورت لري . حکومت ديوي ټولني ضرورت دي، داچي داحکومت دي اسلامي وي، دادي دعدل وي په دي کي دخلکوقناعت اورضاعيت وي اوخلکوته دي خدمت وکولي شي داتي اضافه دوهم صفت دي اسلامي اوعدم اسلامي دحکومت دوهم صفت دي خونفس ،يولنه حکومت ته ضرورت لري اوکه موږيه دي اسلامي ملك کي اسلامي حکومت جوړ کړداجهادحق دي، دادټولو افغانانوغوښتنه ده، اوداټول امت تقاضاده، خوکه موجوږنه کړيبا پريږدي چي په دي ملك کي بل څوك حکومت جوړکړي. داملك په خپل کنترول کي معطل ساتل دادچاپه وس کي پوره ته دي خوکه څوك ئي آبرومندانه دي ته متوجه شي اوپريږدي ډيره ښه ده که آبرومندانه متوجه نشي دابه ترينه خلك اخلي، دابه سومالېي غونډي ، دابه دکويت اودعراق غونډي اخلي دلته به قدرتونه راځي اودابه زموږنه اخلي نن، سبا، بله ورځ موږوخت لرو چي خپل ملك خپله سمبال کړو خوکه خداي ناخواسته موږدخپل ملك دکنترول ،اداري اورهبري پخپله ونه کوله نومعني داده چي موږدانوروته سپارو. زه خوددي اميدلرم اوخداي (ج) سنت هم دادي چي په انسان څه کراونه راځي دي جهادکي لويه اوعظيمه کاميابي وشوه ، اتحاد جماهيرشوروي ختم شو، دکمونيزم تشکيلات اوفلسفه ختمه شوه، دکاجي بې تشکيلات اوسلطه ختمه شوه، دافغانستان آزادي ترڅنگ داتحاد جماهيرشوروي ترکنترول لاندي ټول هيوادونه آزادي که دهغوي په أزادي کي څه مشکلات يامداخلت دمسکوله خوانه اوس هم وي خودبخوايه شان نه دي . موږ ديونيم کال په جريان کي کشمکشونوسره مخ وو مشکلاتو سره مخ وو خوموږ په دي باوراوعقيده لرو چي دامشکلات به ان شاء الله لوي خداي (ج) زموږيه مينځ کي اوزموږ په واسطه اوزموږيه لاسونه اوچتوي درئيس دولت اوصدراعظم په مينځ کي به دامشکلات حل کيږي نورحوصله له چاسره نشته داحکومت چي درست فعال نه دي دابه درست فعاليږي اوکه همداموونشوکولي په ځاي به ني يوبل پخپله جوړوو. يعني هرکارچي کوويابه دهمدي جهادي

موږددي نه بايد ځان وباسو چي ددولت رئيس د دولت امکانات دصدراعظم په خلاف استعمال کړي

تنظيمونويه خوښه اواشتراك به يې کوو يادا يابل ، خوحق اوليت دهمدي قراردادونودي کوم چي په اسلام آباداوجلال آبادکي شوي . اوداقراردادونه بايد خپل خپل ځاي ته ورسيږي . په حکومت کي هرڅوك خپله عهده ولري اوهرڅوك خپل صلاحيت ترلاسه کړي اوهغه اختيارات استعمال کړي شي. داقوماندانان چي په دي ولاياتوکي دي ددي ديومرکزنه رهبري کيږي ، دازموږخپل ځان، خپل تن اوخپل وجوددي ،قرباني ئي وزکړي تکاليف ئي گاللي ،شهيدان ئي ورکړي يتيمان لري، کونډي لري او اوس ددي ملك اداره ورسره ده ترڅوچي دمرکزنه درسته رهبري نه وي ترهغې پوري به په ولاياتوکي ثبات نه راځي . دننگرهار دولايت حال دډيروولاياتويه نسبت باندي ډيرمثبت دي دادننگرهاردخلکوخاص يوولايت ندي بلکي په دي ولايت کي دموقعيت په لحاظ چي دادکابل نه ورووسته دوهمه درجه موقعيت لري دافغانستان دگڼوولايتونوخلك دلته اوسيږي . پاکستان ته په همدي لاره باندي دهجرت کورونه انتقالوي اودهجرت محيط ته ځي اوراځي ، تجارت له دي لاري نه تأمينيږي ،دي ولايت کي دډيروولايتونوخلك دي ، ټولو خلکويه مخ کي ددي ولايت دروازي خلاصي دي هرڅوك کولاي شي دلته واوسيږي دلته تعليم وکړي ، له دي لاري نه تيرشي ددي ولايت اداري ډيرنوم اوشان درلود. ددي ورووستيو حوادثويه ذريعه باندي يوڅه تاوان ورسيدخوهغه حوادث هم الحمدلله دمولوي صاحب حقاني په وساطت فيصله شول . فعلاً ددوي په مينځ کي يوتوافق شته يوه فيصله شته زموږداآرزووده چي دننگرهارجهادي

شوراخپلو لويو عظيمواوتاريخي مسئوليتونوته متوجه شي ، په خپل مينځ کي په صبرباندي معامله وکړي په خپل مينځ کي په اعتمادباندي معامله وکړي اويه خپلومنځونوکي خپل مشکل داتفاهم اوتفهيم له لاري حل کړي ،موږددي ولايت خلکوجهادي شوري څخه هيڅ قسم امتيازنه غواړووفقط همدغه امتيازورنه غواړو چي دوي په خپلوکي خپل تعلقات ښه وساتي اوددوي پرتعلقاتوپوري داامنيت ترلي دي ، که ددي جهادي شوراترمينځ خپل تعلق درست وي مسائل په افهام اوتفهيم باندي حل کړي، صبروکړي يوديل حق مراعات کړي ، يوديل حدودمراعات کړي اويوبل باندي اعتمادوکړي او

ددولت رئيس اوصدراعظم دواړه دنهو جهادي رهبرانو په موافقه داتلسومياشتو لپاره ټاکل شويدي

نوروخلکوته موقع ورنکړي چي دلته لاسوهني وکړي دلته بايدمرکزي حکومت کمك وکړي ، معاشات دي ورکړي بوډجي ورکړي پيشنهادونه يې ومني خودلته لاسوهنه ونکړي، مرکزي حکومت دلته تنظيمي لاسوهني ونکړي داسي نورشخصيتونه دلته استفادي ونکړي اوددي جهادي شوراغړي هم بايد خپل شخصيت وساتي ددي ولايت خلکوته بايد داسي افشانشي چي ځني کارونه چي په دي ولايت کي کوي دخپلونوروخلکوسره دارتباط په وجه کوي، چي کله ددي ولايت دجهادي شوراد مسئولينودغسي يوحرکت افشاشي يادوي داسي يو حرکت وکړي چي دلته دوي بعضي کارونه درسمي تعلقاتونه سوي دخپلوخصوصي تعلقاتويه وجه کړي ددوي حيثيت به ډير ټيټ راشي زموږددي ولايت امنيت اوددي ولايت اداري ددي جهادي شورايه شخصيت پوري ترلي دي. موږدعاکووچي داجهادي شورا پخپلو کي ښه تعلقات ولري خپلو اموروته درسته رسيدگي وکړي، ددي پوهنتون خاصه حمايه وکړي نوري ټولي ليسي مدرسي، دارالايتامونه ، دارلحفاظونه ، دارالعلومونه اويه دي ولايت کي چي کومي تعليمي موسسي شته دهغوي درسته رسيدگي وشي اودلته دشخرويه حل کي په هغه حدکي چي په موږپوري تعلق ولري يازه وکولي شم چي ددوي سره دمشکلاتو په حل کي همکاري وکړم ، مداخله نه ، زه خپله دي ته حاضريم چي دهرقسم مشکلاتو

په حل کي له دوي سره همکاري وکړم بې له دي چي يوامتيازولرو يايوپيشنهادولرو يايوطلب ولرو ددي جهادي شوراغړونه پوښتنه کولي شي چي ديونيم کال په موده کي موږددوي نه هيڅ قسم غلطه غوښتنه اوځه مطالبه نه ده کړي . کله موږچي ضرورت محسوس کړي دي ورسره ليدلي مودي . موږراپوهدي ولايت په امورو کي مداخلت کول نه غواړوهمکاري غواړو، نيك نامي کاميابي غواړو خومداخلت نه کوو. لويه آرزوموداده چي دننگرهارجهادي شوراخپل حريت اوخپل استقلال په دي حدکي وساتي چي ترڅومرکزي حکومت جوړنه وي دلته هغوي غيرمستقيم مداخلي ونکړي اونورخپل ټول حقوق دحکومت نه بايد واخلي ددي معني داده چي حکومت ته خپل حقوق اخلي اوددي خپل مينځي تعلقات په هغه حدکي وساتي چي خپل ولايت اوخپل ولس ته دخدمت مرجع وگرځي .

خداي (ج) دي په افغانستان کي صلح راولي الله (ج) داتنظيمي تجاوزات ختم کړي، درئيس دولت اوصدراعظم پرمينځ کي دي محبت اواخلاص پيداکړي چي يوديل په خواکي کښيني اويه گډه باندي ددي مملکت خدمت وکړي .

حزب اسلامي اوجمعيت اسلامي هغه برجسته جهادي قوتونه دي چي ددوي ديووالي اوهمکاري نه به غيريه دي ملك کي يودرست اسلامي فعاليت نشي کيداي که داني حزب اسلامي دحکومت يادجمعيت په مخ کي مات شي موږهغوي ته مخامخ ويلي دي چي ددي ځاي به څوك مليشي به ئي نيسي کمونستان به ئي نيسي نن که حزب په ساحه کي نه وي تاسره حکومت نشته موږيابديه دي پوه شو موږاستادرباني ته داويلي که حزب په دي محيط کي نه وي ستاحکومت نه پاته کيږي دلته ډير قوتونه شته ،هغه قوتونه مداخله کوي بيابه له تاسره هيڅ نه وي پابه صرف په نامه وي دحزب حتي جمعيت نشي نيولي حرکت الحادي نشي نيولي دهرچاخپل ، خپل حق دی که حزب اسلامي په دي ځاي کي مدنه خوري دهغي ځاي به مليشي اخلي دخلقانواوپرچميانوبقايابه ئي درينه غواړي اوته به په دي محيط کي ني خواسلامي حکومت به جوړولي نشي همدارازکه جمعيت اسلامي ماتيږي دهغې ځاي به منحرف خلك نيسي حزب خويه خپل ځاي کي خپل يوحدلري

موږته غوارو چي حزب دجمعيت سره په داسي مشکلاتو کي راگيرشي چي حتماً يوبانبودکړي . وروڼو په جنگ مسئله نه يوطرف کيږي ،که جنگ مسئله يوطرف کولي نو يوولس واره درانه جنگونه شويدي دلته داسي نظر نشته دي چي يوجهت مکمل مات شي دټوريه مياشت کي چي دلته به جلال اباد کي جلسي وي له پروان - کاپيسا نه دحزب قوتونه وايستلي شو ،جمعيت اسلامي خپل قوتونه واچول آيا حزب مات شو، سياسروبي ونيسي حزب ماتيږي ايادحزب ټول سرنوشت زړه داوسروبي پوري ترلي دي موږقومونه راپاخولي شوله دلسوسره خبري کولي شونوراخونه نيولي شو حزب خويوکتله ده يوه ئوسه ده په ځوانانوکي ، په صاحب منصبانوکي په پوهانوکي ،په سياست مداراونوکي په عواموکي په ماشومانوکي ، ځرفه لري پيروان لري متعهدين لري صفوف لري، په مليونونوخلك دي داټول حلك په سروبي نه ماتيږي فاټول حلك په تگاب باندي نه ماتيږي داچي د يبه تصورکي راځي غلطه خبره ده يبه لغمان کي دحزب يولاس حکومت دي جمعيت خلك مات شوي ؟ يامبدان کي دجمعيت او نورو تنظيمونو خلك شته آياپه دي باندي جمعيت ختم شو جمعيت نه ختميږي، جمعيت په دوهمه درجه يوقوه ده ملي اوبين المللي پيروان لري اواعتبارلري موږ دحزب په وجه دجمعيت دماتولو په فکرکي نه اوسيږو اودجمعيت سره دملگري په وجه دحزب دماتولو په فکرکي ونه اوسيږو دادواړه اسلامي قوتونه دي موږددي دواړوترمينځ روغه کوو اوترآخره پوري داخط تعقيبوو اودغه روغه جوړه ددي ملت په گټه ده ، دادحزب اوجمعيت په گټه ده دادحرکت په گټه ده اوداددي ملت په گټه ده داکه دکمونيزم په خلاف کاروي، دابه ديوخارجي استعماريه خلاف کار وي خوك چي دحزب اوجمعيت ترمينځ دصلحي تحريك چلوي معني ئي داده چي اسلام اوخپل ملك افغانستان ته برجسته خدمت کوي اوڅوك چي دحزب اوجمعيت ترمينځ دتعصب اودجنگونوپروسه پرمخ بيائي معني داده چي ددښمن له پاره جهادکوي موږدامطلب دحزب اميرحکمتيارصاحب ته ويلي دامطلب مودجمعيت اميراستادرباني ته ويلي دي چي دټولو مشکلاتوباوجودنن بايدخپل مسائل حل کړو دتفاهم له لاري نه يې حل کړو،دحقوقو درعايت له لاري نه يې حل کړي اويوبه بل باندي داعتمادله لاري نه حل کړو په يې اعتمادي زموږيوه مسئله هم نه حل کيږي ان شاء الله دخداي رحم ډيرپراخه دي دهغه پيرزويني ډيري زياتي دي الله (ج) په افغانستان کي داسلامي جهادي تنظيمونو ترمينځ دامشکلات حل کړي دنه حکومت چي په دي باندي دټولو جهادي تنظيمونوترمينځ اتفاق شوي دابايد خپل صلاحيتونه اوخپل اختيارات لاس ته راوړي . داوکولاي شي چي خپل مسئوليت اداکړي اودخلکوله پاره خدمت وکړي اوموږيه ددي مسئلي له پاره تلاش کوو داجنگونه چي واقع کيږي دااصل نه دي دايوفرع ده يوه عارضه، داسي عارضه چي موږټول پري دردېږو موږخوددي جنگونومخښوي کوو، دهغي دتکرارمخنيوي کوو، دهغي ديراختيارمخنيوي به کوو خداي دي ډاکټرصاحب اوتاسوټولو ته اجردرکړي

(۷)مخ

په ننگرهارکی علماؤ او...

واگي دي اوتراوسه هغه څه چې اسلام يې غوارۍ نه دي عملي شوي حتي د افغانستان مسلمانان په ډيروشكلاتوكي راگير دي له تاسي څخه چې په حاضروخت كي ددولت اوحكومت واك اواختيارپه لاس كي لري دلاندي موادو چې داتحاد علما افغانستان اوجهادي قومانداناتو مشترك نظراوفيصله ده اوپه اوو مادوكي خلاصه شويده په كلكه سره غوښتنه كوو اوتحريري ځواب غوارو.

۱- خپل مينځي اختلافات فوراً دقرآن اوسنت په رڼاكي حل اوفصل اواعلان كړي.

۲- ټول هغه قوانين چې داسلامي شريعت خلاف اوډپخوانيو څخه په ميراث پاته دي لغواو باطل اعلان كړي.

۳- اسلامي قوانين داهل سنت والجماعت دحنفي فقه په رڼاكي نافذ او اودچلولو اعلان يې وكړي.

٤- دروس بچيان ،دملحد دولت نقاب ،داسلامي اداروڅخه كه نظامي اوي ملكي وي معزول اعلان كړي او سمدستي بايد وشړل شي اوداسلام بچيان يې پرځاي تعين شي.

٥- داسلامي حجاب حكم فوراً اعلان اوبايد عملي شي ،ښځي سمدستي له دفترونو څخه وشړل شي ترڅو بي حيايي اوفحاشي له مينځه ولاړه شي ،په بهانه دكفاف برابرولو دفترونو ته اوپه بهانه دتعليم اوتعلم مكتبونو ته تلل دقرآنكريم څخه خلاف عمل دي.

دفرضي علم په طريقي اودكفاف تعليب اوتعلم لاري چاري دهغوي له پاره اسلام تعين كړي دي بايد هغه مراعات شي.

٦- عام انتخابات شرعاً ممنوع دي خصوصاً چې دملل متحد كافريه كسي دقاضي اوحكم وظيفه اجراكوي اوحضرت فاروق اعظم اوابوجهل په رايه كي سره مساوي وي.

دالله(ج) دقانون څخه خلاف عمل دي په اسلامي افغانستان كي ځاي نه لري.

۷- كه چيرته جهادي مشران پورته مواد عملي اوسوچه اسلامي حكومت جوړ كړي موږ به يې دتبرو پنځه لسوكلوپه څير پيروي اوتابع داري كوو انشاءالله العزيز اوكه چيرته داپورته مواد عملي نكړي نه بوازي داچې تائيد يې نشوكړلي بلكه دشرعي قانون سرهسم به يې مخالفت وكړو اوهغه مسلمانان چې تاسويي مشران ياست دادهغوي غوښتني دي چې ستاسو حضورته پيش اوډځواب په انتظاريواوهم بايد ووايو چې دغه فيصله چې په اوو مادوكي خلاصه شويده د مسلمان مجاهد ملت له طرفه تاسوته اخري عذردي اوكه بيا هم داذكرشوي فيصلي تطبيق نشوي اوتاسي دمسلمان ملت په عذر باندي غوروونكركيداي شي چې له ملت څخه ستاسي دتجريد سبب وگرځي

دپريكړي لهاعلانولو وروسته محترم مولوي صاحب ذاكري وويل بل كوم مكتوب ياعريضه چې فيصله پري وشوه هغه داوه چې په فوري ډول دي دواړه خواوي اوربند وكړي اودافغانستان په ټولو ولايتونواوسيموكي بايد اوربند اعلان شي اوټولي لاري كه په ولايتونوكي دي اويا په مركزيوري ترلي هغه بايد بيله قيد شرط څخه خلاصي شي اوهرڅوك چې په هرډله پوري اړيكي لري هغه بايد دلاروډبندولوڅخه خودداري وكړي.

څكه چې داكاردقرآني سنت اوشريعت څخه مخالف عمل دي .

اوداكارپه هيواد كي قحطي اوقطاع الطريقي ده اوداهغه عمل دي چې دوينو توئيدلو سبب گرځي چې وينه يې مباح شي اومرگ يې هم بيخي مباح شي .

ده وويل بله خبره داده چې دغه اختلافات چې دوي په څه جنگيږي اوولي يې سره تكړدي اوپه څه يې مقابله ده دااختلافات دي قرآن اوسنت ته پيش كړي.

دالله دفيصلي مطابق سلامت اوملامت چې معلوم شول بيادي هغه فيصله طرفين ومني . ددي لپاره يوهئيت تعين شوي دي چې ان شاءالله سهار اراده لري چې ولاړشي بل داخبره ده چې نوموړي هيئت به د مولوي صاحب محمدنبي اواستاد سياف سره ارتباط نيسي او دواړه خواوي به ددي فتني دآرامولو لپاره په كار پيل كړي اوداسي اورو چې مولوي صاحب محمد نبي هم وايي چې موږ داصلاح كوښښ روان كړي

مولوي صاحب ذاكري دشهادت خبريال ته ددي پوښتني په ځواب كي چې دمولوي صاحب خالص اودننگرهار دشوراانظر پدي باب څه دي وويل مولوي صاحب خالص خوله موږ سره پدي مجلس كي ترآخره شريك وو اودهغي هم دانظر وو كوم چې ماوړاندي تاسوته عرض كړ.

خومولوي صاحب خالص دستخط څكه ونكړ چې حاجي صاحب دين محمد مولوي صاحب جلال الدين حقاني موجود وو اوهغوي زموږسره امضاگاني وكړي.

ده وويل چې زموږ سره پدي غونډه كي قاضي محمد امين وقاد ، انجنير صاحب عبيدالله اوقاضي صاحب حكيم هم برخه درلوده او دپكتيا ولايت قومي مشران هم موجود وو.

حاجي مُنجي د ...

په دغه پريكړه كي ليكل شوي وچې دشمالي خان په ځاي دي دهغه كوم نماينده وټاكل شي .خووروسته ددي لپاره چې سوله ښه تامين شي دننگرهار شوري دحسن نيت په خاطر دشمالي خان په ځاي دهغه وروورمُنجي ومانه.

جنگ بين نيروهاي...

دشت آبدان وشيرخان بندرخارج ساخته شده اندوازقواي مذكورسي عراده تانك زرهي ،يك دستگاه راكت انداز،وچهل عراده توپ هاي مختلف النوع به غنيمت گرفته شده است. تاحال ازتلفات قواي دوستم چيزي گفته نشده ولي ازمجاهدين قوماندان عارف واميرجان شش نفر به شهادت رسيده وپانزده نفرديگرمجروح گرديده اند. گزارش مي افزايدكه دوجنرال دوستم ،جنرال آقاوجنرال دوران همراه بايك تعدادافرادمسلح آنهادستگيرشده ويك تعداددېگرافرادمسلح قواي دوستم همره بادوجنرال به تاجكستان قرارنموده اند. درخبرگفته شده كه درين جنگ يك فروند هليكوپترتوپداردوستم نيز سقوط داده شدكه پيلوت آن به هلاكت رسيده است .

دوزيرانو دعالي...

كيدونه مخكي څوځلي فهيم، عبدالله اودخادنورمشران په جبل السراج كي مسعودته دمشوري لپاره ولاړل .

كتاب خان جاسوس دخپلو خبروپه ترڅ كي څرگنده كړه چې دي ديكشنبي په ورځ دخادپه يوه واړه موټركي دټانگ لوگراوبالاحصارله پاټك څخه راتيركړاي شو چې په هغي كي له ده سره دخاد دپنځم رياست مرستيال محمداجان اوڅوتنه نورهم سپاره وو .

دافغانستان علمايا...

مراتبقواوتعهداتوپه شان ترينه سرغړونه وكړي په مقابل كي يې ودريږي . اوداقهرمان ملت بوځل بيا دقرباني ميدان ته راوځوي لكه څنگه يې چې په خپل لرغوني تاريخ كي څوځوځله دطواغيت په مقابل كي خپلي وينې دآسمان افق ته شيندلي دي، ترڅوخپل ملك بوځل بيا په خپلو وينوومينځي .

ترڅوپرنتيجه كي په واقعي توگه يوسوچه اسلامي حكومت جوړاوددي وران ملك دهرزخم پټي اودهرمرض درمل واقع شي . اوټول علماچي هرتنظيم ته منسوب دي اوياندي بايدجدي اقدام اونهايي فيصله وكړي اوپه فعلي شرايطوكي چوپتيااوبي تفاوتي نه تنهاگناه بلكه ددي ملت سره ملي اوته هيريدونكي جفاده اوكه څه وخت نورهم داوضع دوام وكړي نودتيمورشاه اودهغه دزامنو تاريخ به تكراريږي اوداگناه اوجفا به هيڅ هيواد وال نه عفوه كوي اوپه راتلونكي تاريخ كي به دتاريكي دوري ترعنوان لاندي ليكل كيږي.

په افغانستان كی ...

وي داديهودي تبليغاتويوجزدي چې دحزب اسلامي په خلاف ئې كوي .

ده وويل په افغانستان كی دسولي اوامن دنشتوالي له كبله ډيرشميرافغانان دتاجكستان ،ازبكستان ،آذربايجان او قزاقستان جمهوريتونوته مهاجرشوي اوحتي ترمسكوپوري هم رسيدلي دي اماداچي دحزب وحدت يونيم زركسه دي آذربايجان ته پدي غرض ليږل شوي وي چې هلته دارمنيانوسره په جگړه كي برخه واخلي هسي تبليغات دي .

همدارازپه پېښوركي دافغانستان دوحدت اسلامي نماينده حاجي عباس دلجودواشنگټن پوست دورځپاني دغه رپوټ بيخي ردكړاوويي ويل لكه څنگه چې دحزب وحدت گوند په افغانستان كي خارجي مداخله غندلي اوپه خپلو چاروكي دنورومداخله ناجايزه بولي په همدي ډول ځان ته هم داحق نه وركوي چې دنورو په چاروكي مداخله وكړي .

حاجي دلجوهم دواشنگټن پوست دغه رپوټ هسي تبليغات وبلل .

دافغانستان اوسني...

ددي پوښتني په ځواب كي چې په اوس وخت كي له كمونستانو سره جهاد روادي اوكه نه لكه هغه له دغه اسلامي تنظيمونو سره يوځاي شوي وويل ،بلي له دغو كسانو سره جهاد روادي همدغه دكمونستانو بقايا دي اوپه تنظيمونوكي يې ځانونه ځاي كړي دي اوداوسني جنگونه چې راپيښيږي دا دهمدغو كمونستو عناصرو له لاسه دي چې دجهادي تنظيمونو په مينځ كي ځانونه ننه ايستلي دي ده زياته كړه ددوي له لاسه په كابل كي مسلمانان په آزاده توگه نشي گرځيدلي .

دافغانستان داسلامي...

رسيدو سره به زموږپوهنتون پيل شي .

نوموړي ددي پوښتني په ځواب كي چې ستاسودپروگرام له مخي څو شميرمحصلين دبرياليتوب چانس لري وويل له ۱۵۰ كسانو څخه نيولي تر ۲۰۰ كسانوپوري دبرياليتوب چانس لري .

همدارازده ديوي بلي پوښتني په ځواب كي چې ستاسوپوهنتون به دعالي تحصيلاتودوزارت په چوكاټ كي ، خوست ته انتقال كيږي وويل: داحقيقت لري خوكله چې په خوست كي ددرس زمينه يعني تعميراونورتسهيلات آماده شي .

دمنځني ختيځ...

دهتلر هغه تهديد راياددوي كوم اوس چې ديهودوځواپرعربانو دي . ياسرعرفات چې يووخت دفلسطين يونه ستري كيدونكي سرتيري ژاوس حتي دصهيونيستي پوليسو څخه بدتر د يوه جنايتكار اوداسرائيلو په همكاربدل شوي دي. داله تصور نه ليري خبر نه ده چې حماس اونوري راديكالي دلي به د P.L.O له رهبري نه ددريځ دروښانه كولو غوښتونكي شي چې دالجزايري رژيم F.L.S ته به ورته وي اويا به اخوان المسلمين ته چې دمنځني ختيځ په اكثروهيوادوكي موجوديت لري.

دسولي راتلونكي به دمنځني ختيځ دنوي فلسطين په توانايي پوري اړه ولري چې داسرائيلوپه شان دخپلو خلكو سياسي اواقتصادي غوښتنو ته توجه ولري.

داهمداشان دلويو قدرتونو په سيي توگه پيژندني ته هم ضرورت اودخپل هيواد وضعي ته په فوري اوبنيادي توگه بدلون وركړي.

اسرائيل همداراز بوځه يهود الاصله نفوس په څښو عربي هيوادونو لكه مراكش عراق اوعن كي لري چې داخلك له اعرابو سره تاريخي، اوكلتوري پيوند لري

اوكيداي شي په راتلونكي كي داسرائيلولپاره دسولي موثر قاصدان وي . اسرائيل بايد لومړي دفلسطين له كاملي خپلواكي سره موافقه وكړي . اودټولو نيول شوو ځمكو لكه دجولان لوړي ، جنوبي لبنان او ختيځ يورو‌شلم څخه ووځي . وروسي بايد دابه عملي ډگركي ثابته كړي چې له عربانو سره دمنځني ختيځ ديوه هيواد په توگه په سوله ايزډول ژوند كول غواړي په دي ترتيب به يې دسيمي دستونزي په حل كي مرسته كړي وي . برسيره پردي ترڅود يوه غربي هيواد په جمله كي دځان شميرلو څخه منصرف نه شي په سيمه كي دوامداره سوله نشي راتلاي .

له عربانو سره داسرائيلو سوله دهغوي ډيره پخواني هيله ده .خوله نبونيانو څخه داسي معلوميږي چې داموافقه صرف دسولي په طرف لومړني گام دي ، دابه ډيره سادگي وي چې په دي نژدي راتلونكي كي دبشپړي سولي هيله من واوسو ،څكه اوس هم ديوي دايمي سولي لپاره اورده لپار پاتي ده.

رئيس جمهور روسيه طرح خود رابراي دورهٔ بعد ازسقوط شوروي افشا كرد

مسكو- ۱۹ عقرب :

يلتسن رئيس جمهورروسيه امروزبانشرمسودهٔ نهائي يك قانون اساسي جديدطرح خودرابراي روسيه دردورهٔ بعدازسقوط شوروي افشاساخت. آژانس خبري ايترتاس متن شصت وشش صفحه ئي قانون اساسي جديدرا نشركردكه به يلتسن اجازه ميدهدتاختم دورهٔ پنج سالهٔ رياست جمهوري اش (الي سال ۱۹۹۶) به كارش ادامه دهد. امادورهٔ خدمت اعضاي پارلمان رابراي دوسال كه قبلاً پيشنهاد شده بودمحدود ميسازد. روسهابرين قانون اساسي به تاريخ ۱۲ دسمبررأي خواهند داد ودرعين روزاعضاي پارلمان جديدروسيه راانتخاب خواهندكرد .

معين وزارت خارجهٔ امريكا درامورآسيا جهت انجام مذاكرات عازم كابل شد

۱۹ عقرب :

راوندرافل معين وزارت خارجهٔ ايالات متحده امريكاجهت انجام مذاكرات باماموربن حكومت افغانستان به كابل رفته است. معين وزارت خارجهٔ امريكاامروزسه شنبه دريك طيارهٔ ملل متحدازاسلام آباد به كابل رفت . خانم رافل معين وزارت خارجه درامورآسيا عالي ترين ماموراپالات متحده است كه طي چند سال اخيرازافغانستان بازديد ميكند .

دا هيواد په زور ...

چې موږته ددي فرصت برابركړي چې پس له ډيري مودي نه له تاسي سره دنيږدي نه گورو دابه زموږ اولني ديدن وي آخرني به نه وي موږبه دي پوهنتون كي دافتخاري غړي توب ارزولرو اودپوافتخاري غړي په حيث به ددي پوهنتون دهرډول پراختياتقويي اوحمايت له پاره دافغانستان په چوكاټ اودنوروواسلامي هيوادونوپه چوكاټ كي كمك ته حاضريو اوخداي دي ددي پوهنتون فيوضات نورهم پراخه كړي وآخردعوانان الحمدلله رب العلمين

(له كست نه پلي كوونكي : عبدالهادي «نيازي »)

خواږه ترخه

مسلمان سره څكه ستري مشي نكوم چي انگريزخپه كيږي

محمد رحيم خنجر

وخاندم كه وژاړم ،يارشم كه بيزارشم دانساني نوع پيدايښت اوخلقت په مختلفو شكلونو سره شوي دي بيا ددوي په رويو اوخويونوكي هم زيات فرق ليدل كيږي استعدادونه هم مختلف دي نظريات يې هم .

كله كله له يوبل سره ټكركوي له موراوپلار څخه ټول مسلمانان پيداكيږي خودهغوي داسلاميت اوكفر عوامل موراو پلار وي كه له پيل نه چا څوي داسلام پر اصولو برابرتربيه كړ طبيعي ده چې هغه به مسلمانيږي اوكه برعكس چا دكفري نظرياتو پر اصولو تربيه كړ نو دي كي هيڅ شك نشته چې هغه به كافركيږي . اوس راځودي خبري ته كه څوك له مسلمانانوسره گرځي نو دا هم يوكلي امردي چې دهغوي مينه اوعلاقه به له مسلمانانوسره وي اوكه څوك دكفري ځواكونو ترڅنگ پاتي شول اويا يې له هغوي سره دگرځيدو راگرځيدو ورځي اوړدي شوي نويې له شكه دهغوي په اخلاقو اورويه باندي دكفارو اغيزدومره پريوزي چې بيا هيڅ دخلاصي لاريې په نظرنه راځي اونه بيا دائمه تري پكار ده چې هغه به اسلام اومسلمانانو ته دكوم درد دواشي .زه ددي مضمون په ليكلو هله مجبورشوم چې داسلامي تحريك يوفعال غړي مي له يوه انگريزمسره يوځاي په موټر كي سپور وليد مخكي له دي څخه يې كم رسمي ماموريت نه درلود خواوس په يوه مؤسسه كي له انگيرزانو سره وظيفه اجراكوي .

اودژوند سطحه يې دومره لوړه شوي چې اوس زموږ غونډي مسلمانانو په انډيوالي شرميږي كه نه ورته لاس جگوي هغه درنه مخ گرځوي كه نه ورته سلام اچوي نوانگريزخپه كيږي كه موږتري مخ گرځو نودا اسلامي طريقه نه ده نودپاڼ اوپرانگ ترمنځ حيران يو خوورځي دمخه هم داځوان دكابل نه دجلال آباد په لورراهي و زه دشهادت دورځپاني ددفتر په دروازه كي ناست وم چې ناڅاپه مي دده په موټر سترگي ولگيدي اودي پخپله هم دموټرپه سيټ كي ناست و زه دزياتي خوشحالي په خپل ځاي نيغ ودريدم اوغوښتل مي چې ورسره روغبړوكړم اودزړه مينه پري ماته كړم خوكله يې چې موټرزموټرخوانه رانژدي شو ټكني شوزموږ خواته يې وكتل اوموټريي داسي تيزكړ چې ئابه ويلې دښمن ورته په كمين كي ناست دي زه په خپل ځاي همداسي ولاړ په چورت كي لاړم اوله ځان سره مي وويل چې البته زه به يې نه يم ليدلي نوڅكه يې موټرونه دراوه ليكن څو ورځي وروسته بيا په همدي ځاي كي ناست وم چې بياپه همدي سړك دموټرپه سيټ كي ناست اوموټريې را روان دي كله چې موږته رانژدي شو نولاسونه موسره جگ كړل بيا هملايځوايه شان ټكني شو ويې خندل او ونه دريده نو داځل پوشوم چې خبره چيرته ده اوزموږ جرم څه دي چې داوروريرموږهيڅ خيال نه راوړي بياراته چا وويل څومره ساده يې نور دي خلكوته نيټ اوجگ كيږه مه هغوي له دي ويري ستاپه شان څلكوسره اړيكي نه ساتي چې ددوي ددفتراروپايي مشران خبر نه شي اوحيثيت ته يې صدمه ونه رسيږي نوهغه په همدي سبب وايي مسلمان سره ستري مشي څكه نكوم چې انگريزخپه كيږي .

دهيواد محترم صدراعظم ...

اوامنيت دټينگښت لپاره دانتخاباتوپه پروسه باندي ټينگاروكړ اووي ويل چې موږ دنړي له ټولو هيوادونوسره دښواړيكو غوښتونكي يو په خانگړي توگه له هغو هيوادونوسره چې زموږ ده ۱٤ كلن جهاد په اوږدوكي ئې له موږسره مرستې كړي .

رپوټ وايي چې ددي خبروپه ترڅ كي دهيوادصدراعظم اودامريكادبهرنيوچارو دوزارت دمرستيالي ترمنځ ډروسي بنديانودخوشي كولو، په تاجكستان كي دوراني كړكيچني وضعي، په كابل كي دامريكادسفارت دېرانستلواوهمدارازدېولړنورومسئلو په باب بحث وشو.

شرح حقايق بيانگر حوادث...

دراخير بايد متذكرشوم اينكه آنهاي كه از وجود نظام اسلامي دركشور هراس دارند ونميخواهندكه دركشور پايه واساس نظام اسلامي استحكام يابد. دراصل آنها يا كمونست اند ويا منافق ، فلهذا درشرايط فعلي هر عمل ناشايسته را كه توسط عده ازمجاهد نماها دركابل وياساير ولايات افغانستان انجام مي يابدو سبب بدنامي مجاهدين به سطح كشور ميگردد ، دراصل مرتكبين آن مجاهد نبوده ، بلكه غرض لكه دار ساختن شهرت جهادي مجاهدين اينكشور ، به چنين اعمال ناخوش آيند مبادرت مي ورزند ، كه يقيناً ملت ما اين دسايس خصمانه دين ووطن رابه اسرع وقت شناسايي نموده واز خداوند متعال اميدواريم تاثمره اينجهاد رابرخلاف تصورات منافقين درنتيجه نصيب مومنين واقعي گرداند وبه اين ترتيب در افغانستان نظام واقعاً اسلامي مبرا ازشخصيت هاي الحادي برقرار گردد.

پيرصيب !...

گډي پاليسي اختياروله اوپه هغه جدي توگه عمل كول .

۷ - كه چيري پوهاند رباني اوانجنيرصاحب حكمتيار دواړه نه شي كولاي په گډه داملت داوسني بحران څخه وكاږي ، نو دواړوبه شمول دكابيني دټولو غړوڅخه داستعفا غوښتنه اوپرځاي دملت واگي داسي مسلمانانوگروته سپارل چې دژرترژره دانتخاباتو له پاره لاره همواره اوددي لاري پوملي اسلامي حكومت جوړيږي وعمومي

په افغانستان کي دسولي دنشتوالي له امله گڼ شمير خلك - تاجکستان،ازبکستان اوآذربايجان ته مهاجرشوي

دواشنگټن پوست ورځپاني دتيري دوشنبي دورځي په گڼه کي دخپلي تبصري په ترخ کي ليکلي چي گويادافغانستان حزب اسلامي اووحدت اسلامي مجاهدين ديوزيات شمير پيسويه بدله کي ارمنستان ته ليږل شوي اوهلته ئي دروسي قواوومقابلي ته ځانونه تيارکړي دي کله چي دامريکاغږراديوخبريال پدي باب دحزب اسلامي دوياندواداطلاعاتو کلتوردوزارت دکميسيون له مشراستادقريب الرحمن سعيد نه پوښتنه وکړه نوهغه په ځواب کي داسي ووېل : دادرسته ده چي داگست په مياشت کي دآذربايجان نه يورسيمي هيئت افغانستان ته راغلي وو اودافغانستان داسلامي دولت رئيس

استاد قريب الرحمن "سعيد"

استادبرهان الدين رباني اودهيواد دصدراعظم وروروحکمتياراودخارجه وزارت دمامورينوسره ئي وکتل .
استادسعيدزياته کړه داسي تبليغات کيږي چي دي هيئت دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ته زياتي روپي ورکړي (۷)مخ

دافغانستان اوسنی حکومت شرعی حکومت نه دی

دلرم ۱۹ نيټه :
دکندهار دولايت اوسيدونکي مولوي عبدالستار چي داتحاد اسلامي دتنظيم غړي دي تيره شپه بي له بي بي سي سره ديوي مرکي په ترځ کي دافغانستان اوسني دولت غير شرعي وباله وي ويل چي بايد ټول کمونستان له کاره وشړل شي اوجهاد ورسره وشي ، ده ووېل :
دافغانستان اوسني حکومت ځکه اسلامي حکومت نه دي چي داسلامي حکومت څلور شرطونه دي چي دي حکومت تر اوسه يو هم نه دي پوره کړي لمړي داچي ،دحکومت بايد مرز ولري ،دوهم داچي بايد حدود ولري اودريم داچي اسلامي اردو ولري او اردو دهغي ترقوماندي لاندي وي ،اوحلورم دا چي د خپلو سرحداتو نه دفاع وکولاي شي اواسلامي حدود اجراکړي ،خوداحکومت يوشرط هم نه دي پوره کړي هغه ووېل ان ترددي استاد رباني چي ددولت رئيس دي دارگ نه دباندي نشي وتلاي .ده (۷)مخ

دشري دناروغي اودماشومانو دفلج کيدو دمخنيوي لپاره کارپيل شو

کابل -دلرم ۱۹ :
دافغانستان دعامي روغتيادوزارت يومسئول خبرځاي خبراکوي چي دومه ورځ دعامي روغتيا دوزارت له خوادکابل ښارپه يولسمه ناحيه کي دشيري دناروغي اوماشومانودفلج کيدودمخنيوي په خاطريوه غونډه جوړه شوه .
پدي غونډه کي چي ديو، اين، سي، ايف استازودنړي دروغتيايي سازمان دابن سينادموسسي مسئولينواودافغانستان دعامي روغتيادوزارت لوړرتبه مقاماتوبرخه اخستي وه دعامي روغتيا وزيرمحترم سيدمحمدامين ،فاطمي دماشومانو دروغتيادبنه والي په لاره کي دواکسنشن داهميت په باب خبري وکړي اوواکسنشن کونکي کي بي خپلو مسئوليتونوته متوجه کړل

دکابل دپل تخنيك دانستيتوت دبياترميمولوکارپيل شو

کابل دلرم ۱۹ نيټه .
دکابل دپل تخنيك انستيتوت دبياترميمولوکار ديوي غونډي په ترځ کي پيل شو.دعظمي صدارت دمطبوعاتي دفتر دريوټ سره سم دغونډي په پيل کي دلوړو اومسلکي تحصيلاتو وزيرمحترم سيدمحمدعمر منيب خبري وکړي. په دي غونډه کي دبنايي اوآرياناداساختماني دستگاوو اوهمکاريو دلوړو اومسلکي تحصيلاتو دپلان رئيس ،داداري اوتدريسي ودانيو دهستوگني دبلاکونو اولابراتواردترميمولود کارپه باره کي خبري وکړي.
####

دافغانستان دخلکو له پاره لازمي مرستي ځکه نه ترلاسه کيږي چي هلته امنيت نشته مشوريس

امريکا غږ دلرم ۱۹)
دافغانستان لپاره دملگروملتونو دعمومي منشي خاص استاذي وايي چي په افغانستان کي تازه جنگونه په داسي وخت کي پيل شوي چي دملگروملتونو موسسي دجهاني ټولني نه دافغانستان دخلکولپاره دبشري مرستي خواست کړي دي.
دامريکا غږ ددري سرويس خبريال دهغه سره دهمدي موضوع په باب مرکه کړي چي دادي دهغي رپوټ تاسي لوستونکو دپوره معلوماتو لپاره خپررو.
دافغانستان لپاره دملگروملتونو خاص نماينده چي دوي مياشتي مخکي دانتخاباتو طرحي ته خوش بين و اوس حتي دعاجلو بشري مرستو دحاصلولولپاره هم په تشويش کي دي دملگروملتونو دعمومي منشي دخاص استاذي ستوريش مشوريس اصلي دليل هغه سخت جنگو نه دي چي دخو ورځو راهيسي دتگاب په سيمه کي دوام لري هغه وايي داډيرد تاسف ځاي دي چي دغه جنگونه په داسي وخت کي پيل شوي چي ملگري ملتونه دنړي له ملکونو نه دافغانستان خلکوته دژمي دمياشتو لپاره دبشري مرستو خواست کوي.
(۲) مخ

اعلان

کورس امريکن سنټرباسابقهٔ درخشان خويش باداشتن استادان مجرب وباتجربه وباهمه امکانات تدريسي (سمعي وبصري) همه روزه ازساعت ۱ الي ۷ شام دررشته هاي ذيل شاگردمي پذيرد .
۱- لسان انگليسي وفرانسوي ازبيگنرالي ادوانس دوم
۲- کلاسي هاي خطاطي، رسامي، ميناتوري
ثبت نام : ازتاريخ ۱۰ الي ۲۰ نومبر
آدرس : صدر، تهانه غربي، گلبرگ نمبر۱، کورس امريکن سنټر ۳-۱

خبرتيا

دافغان سيدجمال الدين رفاهي موسسه دبوټ گنډلو ،ولډنگ کاري، حلبي سازي ،اوترکاني شپږ مياشتني کورسونولپاره چي د ۱۹۹۳ م کال دددسمبردمياشتي په اوله نيټه چي د ۱۳۷۲ هـ.ش کال دليندي دمياشتي له لسمي نيټي سره سمون خوري افغان مهاجرمعيوب وروڼه په لاندنيوامتيازاتوسره په پيښوورکي دشاگردپه توگه مني:
۱- ليليه (دهغه معيوبينو لپاره چي دتگ راتگ توان ونلري)
۲- مياشتني مناسب جيب خرچ .
۳- دسواد اوديني علومو زده کړه منظم تقسيم اوقات له مخي دمجربو استادانو له خواتدريس کيږي.
٤- دکورس په پاي کي تخنيکي تصديقنامه ،دسواد دزده کړي تصديقنامه اودشاگردلپاره هغه سامان چي دکورس په جريان کي پري کارکوي ورکول کيږي.
مينه وال ورونه دي ژر تر ژره دنوم ليکلولپاره په لاندي پته مراجعه وکړي:
پته : جمرود روډ نعمت محل ايستگاه دقرطبه ماډل سکول شاته دسيدجمال الدين افغاني رفاهي موسسه .تلفون ٤۲۷٦۳

اعلان

ابن سينا مرکزي طبي لابراتوار واقع پورد ناصرباغ رودکوچه سوم تحت نظرعبدالغني "سلطاني" اخيراً باوسايل مجهز وپرسونل ورزيده وباتجربه شروع بکار نموده است. درقسمت اجرت معاينات تخفيف قابل ملاحظه نسبت به مارکيت درنظرگرفته شده است. ۳-۳

اخبارجهان

دروسي ددفاع وزير پيکنگ ته تللي

دلرم۱۸ نيټه :
دروسانو ددفاع وزير پاول گراچوف پيکنگ ته تللي دروسيي خبري آژانس ايتارتاس ويلي چي نوموري به دخپل سفرپه دوران کي دنظامي همکاريوپوټرون لاسليك کړي.
تيرکال روسانو په چين باندي ددووسوميليونوډالروپه ارزښت وسلي لا دپخوا نه خرڅي کړيوي خبرزياتوي چي روسان زياراسي چي نړيوالو ته قناعت ورکړي چي په چين باندي ددوي دوسلوپلورل فقط ددفاعي چارو له پاره دي.

رئيس پارلمان سريلانکا قصد مذاکره باجدايي طلبان شورشي تاميل را دارد.

سريلانکا ۱۹ عقرب
رئيس پارلمان سريلانکا قصد دارد براي مذاکره جهت يك آتش بس درجنگ ده ساله باجدايي طلبان شورشي تاميل به پايگاه آنهادرشبه جزيره جفنا برود.محمد حنيف محمد اميدواراست بارهبر شورشيان تاميل ملاقات کند. خبر مي افزايد که وقت مسافرت اعلان نشده است،محمد حنيف محمد مربوط اقليت مسلمانان سريلاکامپباشد واوطي مسافرتش به جفنا منحيث رئيس پارلمان به حيث نمايندهٔ حکومت خدمت خواهد کرد .

په اردن کي عمومي انتخابات پيل شول

عمان : دلرم ۱۸ نيټه،
په اردن کي عمومي انتخابات پيل شويدي اوهڅه شويده چي بوگوند هم دنورو نه زياتي رايي يونسي . ټاکل شويده چي داسيستم به دمسلمانو مبارزينو پرضد تمام شي اوداگوند داسرائيلو سره دسولي دتړون دلاسليك کيدني سره مخالفت ښيئ ويل کيږي چي داگوند به د پارلمان داتياوروچوکيوڅخه دشلوپه شا اوخواکي چوکي وگټي .سياسي مبصرين وايي چي په پارلمان کي به دهغو گوندونو اکثريت زيات وي کوم چي دسولي دتړون سره موافقت لري خبر زياتوي چي رايه ورکوونکي درايي ورکوني حوزو ته حاضرشوي دي اونتايج به بي تن ناوخته معلوم شي.

معاون سياسي ياسرعرفات درجنوب لبنان ازيك حمله جان به سلامت برد

لبنان ۱۹ عقرب .
يك معاون سياسي ياسرعرفات درجنوب لبنان ازيك توطئهٔ قتل جان به سلامت برد وضع او درشفاخانه خوب خوانده شده است.
زيد وابوه يکماموارشد جنبش عرفات درشهر بندري تايرابه ضرب گلوله زخمي گرديدٔ ضارب که يك مرد مسلح ناشناس بود ازمحل فرارنمود تاکنون هيچ گروهي مسؤليت اين حمله را به عهده نگرفته است.

په سوماليا کي دکيبرد موسسي يو مامور ووژل شو.

سوماليه : دلرم ۱۸ نيټه .
په سوماليه کي دکيبرپه نامه ديوي خيريه موسي يوتن مامور دماليزيا دعسکروسره د يوي نښتي په ترځ کي ووژل شويدي . په نايروبي کي دکيبردسازمان مامورين وايي دسومالي په پايتخت کي ددوي مامور اوال بيرشي واتاتامي هغه وخت ووژل شو کله چي ماليزيايي عسکرود نامعلومو وسله والو ددزوپه مقابل کي ډزي وکړي دکيبرمامورين وايي چي دماليزيا عسکروبي رحمانه ډزي کړي اوبه دي هکله ملکرومليتونوته شکايت کړي دي.

درمحوطه سفارت فرانسه درتهران بم پرتاب شد.

تهران ۱۹ عقرب :
درتهران درمحوطه سفارت فرانسه ودفاترشرکت هوايي ايرفرانس بم پرتاب شد .درخبر گفته شده که يك نفردرشرکت ايرفرانس ذريعه انتشارپارچه هاي شيشه مجروح گرديد.
تيلفون کنندگان ناشناس گفته اندکه اين حملات بدان جهت صورت گرفته است که مقامات فرانسه ومريم رجوي رهبرگروه مخالف باحکومت ايرانکه در جلا وطن بسرميبرد اجازه ورود به فرانسه راداده اند.

قرارداد کيږي

حاجي حيات الله ، حاجي نبي ، حاجي صفت الله اوآهنگردننگرهارولايت دامنيي قوماندانئ دضرورت څوارلس قلمه حبوبات ديوکال دپاره په لاندي نرخونورسوي . موسسي اونورڅوك بي که په کمه بيه رسوي خپل غوښتن ليکونه دي دعقرب دمياشتي تر۲۳ نيټي پوري دنوموړي قوماندانئ دلوژستيك مديريت ته وسپاري شرطنامه کتلاي شي تأمينات ۲ فيصده نقداخستل کيږي:

۱- تورچاي يوکيلو (۵٦۸۰)	افغاني
۲- شين چاي يوکيلو (۵٦۸۰)	افغاني
۳- نري وريجي اوله سيله يوکيلو (۹۱۵)	افغاني
٤- نري وريځي دوم سيله يوکيلو (۸۲۵)	افغاني
۵- دال نخوديوکيلو (۱۱۳۰)	افغاني
٦- سري لوبيا يوکيلو (۱۳۰۰)	افغاني
۷- پاکستاني بوره يوکيلو(۱۰۰۰)	افغاني
۸- ميده مالگه يوکيلو(۱٤٤)	افغاني
۹- غټي وريجي يوکيلو(٦۸۰)	افغاني
۱۰- لواري مي يوکيلو(۷٤۰)	افغاني
۱۱- غوړي اوله شمع يوکيلو (۲۱۵۰)	افغاني
۱۲- غوړي کوه نور يوکيلو(۲۱۵۰)	افغاني
۱۳- غوړي شش گاو يوکيلو(۲۱۰۰)	افغاني
١٤- پولي خميريوکيلو(۱٤۰۰)	افغاني

فرمان الهي

هرآنکه کسيرا بغيرعوض کسي ويغيرفساد درزمين (قطع طريق و ارتداد) بکشد ، چنان است که همه مردمرا کشته است وهرکه سبب زندگاني کسي شد ، پس چنانست که همه مردم رازنده نموده باشد.
(مائده ۳۲)

ارشادنبوي

ابوموسي اشعري (رض) روايت مي کند که پيامبر (ص) فرمودند : مسلمان براي مسلمان (رابطه مسلمانها باهمديگر درتعاون وهمکاري) چون ساختماني است که برخي ،برخي ديگر را محکم مي سازه ، سپس آن حضرت (ص) انگشت هاي خود رابهمديگر درآوردند.
(متفق عليه)

بقيهٔ سرمقاله

اسلام آبادوجلال آبادبحساب آورد. ولي همه شاهدبوديم که چه کساني موادمعاهدات مزبوررابه لگدزدند ؟ چه کساني حکومت برادرحکمتيار راباموانع ومشکلات روبروساختند وبالاخره چه کساني بودندکه درجريان مذاکرات جلال آباد سنگرهاي مجاهدين حزب اسلامي رادرولايات پروان وکاپيسا اشغال نمودندو مجاهدين آن خطه راکه طي پانزده سال جهاد ازمناطق خويش دربرابرقوای روس دليرانه مقاومت کرده بودند ووجب وجب خاك آنديارخون آنهارنگين است، ازآنجاهابرون راندند ؟
حالاکه مجاهدين آوارهٔ پروان - کاپيسا قصد مراجعت به خانه وکاشانهٔ خودرا دارند، آيااين عمل خلاف اسلام است ؟ هيچ انسان صاحب-اندك خرد وتعقل اين راقبول نخواهدکردکه کسي بگويدکه آوارگان پروان - کاپيسا حق مراجعت واسکان مجددبه ملك وخانهٔ آبائي خويش راندارند. درچنين اوضاع وشرايط که تقريباً هفت ماه ازآن مي گذرد، صداي هيچ مصلحي بلندنشدکه به اشغالگران بگويد شمااشتباه کرديد، لطفاً مجاهدين آواره رااجازه بدهيدکه دوباره به مناطق اصلي شان برگردند، اگراشغالگران ازين عمل انکارنمودند، هيچکسي صداي مصلحي رانشنيدکه گفته باشد ائتلافي هادرپروان وکاپيسا مرتکب غلطي شده اند وچهره آنهارابايد معرفي نموده باشد!
حالاکه درااثرهمين بي تفاوتي مصلحين وزورگويي ائتلافيون باردېگرآتش جنگ درگرفته ، اصلاح طلبان بازهم اينجاوآنجاگردهم آمده وچنين زمزمه مي کنند که گويا هردوطرف بايدازجنگ دست بگيرند ، نمي دانيم اين آقايون مصلح هنگاميکه اشغالگران، مجاهدين حزب اسلامي راباتوزيع بي حساب پول واعمال فشارازچاريکارويگرام وجبل السراج وکوهستان ومحراب وتگاب آواره ساختند، گجابودندوچرابه زورگويان نگفتندکه آتش جنگ راخاموش سازيد، ازاذيت مسلمانان واشغال سنگرهاي مجاهدين دست بگيريدوياحداقل اين عمل راتقبيح ميکردند ؟! مگرحالاکه همان مجاهدين آواره ومظلوم ضمن پيشگيري اهداف توسعه طلبانهٔ ائتلافيون بسوي سروبي وجلال آباد ،قصدعودت به مناطق خويش رادارند، مصلحين دست بکارشده اندتابه بهانهٔ آتش بس مظلوميت وآوارگي آنهارابراي ابدتمديدنمايند .
قرآن مجيد نيزحکم مي کندکه اصلاح بايد براساس عدل وقسط صورت بگيرد چنانچه ميفرمايد: « فاصلحوابينهمابالعدل واقسطوا » پس صلح کنيدميان دوطرف نزاع برمبناي عدل وقسط رارعايت کنيد .بدون رعايت عدل وقسط هيچ معاهده واصلاحي پايدارنمي ماند، ديرويازودجوانب درگيربجان هم مي افتند ، چنانچه که اکنون بعدازچندين معاهدهٔ صلح بازهم جنگ ميان آنهادرگرفته است. عدل وقسط موجب مي شودکه بحران فعلي اساسي حل شود، جوانب مختلف کشمکش خوب سنجيده شود، طرف هاي ناقض وملامت برملا شوند. رعايت عدل وقسط موجب مي شودکه دلواپسي هاي بعضي عناصرجنگ طلب ازقلوب شان زدوده شود وميان دوطرف اتحاد ومحبت بميان آيد وعوامل خلاف وصراع براي ابد ازبين برود .

نوميالي مجاهد اول خان (خاني) شهيد

حق دلاري ويارمن غازي اواسلامي انقلاب ريښتيني سپاهي مجاهد وروراول خان «خاني» چي مشهورپه پهلوان و دظفرخان زوي دکابل ولايت دسروبي ولسوالي اوسيدونکي د ۳۰ کلونوپه عمردشهادت لوړمقام ته ورسيد .
نوموړي اتل چي دمجاهدقوماندان چمن خان ترقوماندي لاندي خپل مقدس جهادته ادامه ورکوله دروان کال دلړم دمياشتي په نيمائي کي وروسته له هغې چي دتگاب ولسوالي ئي دائتلافي ځواکونوله ناولولاسونوڅخه پاکه کړه ديوي مخامخ نښتي په ترځ کي ئي دشهادت لوړمقام ترلاسه کړ .دنوموړي شهيدفاتحه دجمعې په ورځ دسهارله لسوبجوڅخه دغرمي تر۱۲ بجوپوري په ناصرباغ دوهم نمبرکمپ ،دحاجي ميرويه جوماټ کي اخستل کيږي دوستان دي خبروي .

اعلان فاتحه

به اطلاع عموم برادران مهاجرومجاهد وانصاررسانيده مي شودکه مراسم فاتحه خواني مرحوم خواجه محمدشريف قبله گاه خواجه محمدوضابط محمديوسف سابق قوماندان تولي درجهادپوهنتون که جنازه قبلاً درنصرت مينه واقع درشمشتو بخاك سپرده شده بوم جمعه مؤرخه ۲۱ /۸/ ۷۲ ازساعت ۸ - ۱۲ بجه قبل ازظهردرمسجدامام ابوحنيفه برگزارمي شود.

اعلان

معهد عالي تربيه اسلامي به يك نفر استاذ در رشته کمپيوتر ضرورت دارد. اشخاصيکه داراي شرايط ذيل باشند با اسناد دست داشته شان به اداره معهد تشريف بياورند .شرايط کاروحق الزحمه درادارهٔ معهد اعلام خواهد شد.
شرايط :
۱ - اقلاً داراي ديپلوم عالي درکمپيوتر باشد .
۲- سابقه تدريس داشته باشد.
۳- به لسان عربي مهارت داشته باشد.
٤- مصروفيت هاي جانبي نداشته باشد.
آدرس : پاوکه- کنارنهر-پشاور .
اداره معهد عالي تربيه اسلامي

شهادت
بيانگرعقايدوآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
صاحب امتياز: حزب اسلامي افغانستان
مؤسس : المجنيرحکمتيار
ناشر : رياست ارشادوفرهنگ
تحت نظرهيئت تحرير
پست بکس : ۱۰۳٦ يونيورستي تاون پشاور
آدرس : جلال آباد چکنوري
حساب بانکي: ۸۵۲٦٤ دافغانستان بانك
تلفون : ۲۹۲٦